هاري نېټه ۲۵/۱۰/۲۰۰۹

# دافغانستان قومي درز او انشعاب

د امریکا وتلی سیاسي مبصر محترم سلیګ هاریسن د نېشن په اونیزه کي د اکتوبر پر ۲۱ مه یوه ژوره او د اندېښنې وړ مقاله خپره کړې ده چي لوستل یې دهغو افغانانو لپاره ضروري ګڼم چي د هېواد د روان ویجاړ حالت په باب فکر کوي. د ښاغلي سلیګ هاریسن په ارتباط همدې لیکوال پخوا هم څه لیکلي او د هغه ځیني مقالي مي ترجمه کړي دي، نو بنا دلته یې داضافه معرفي کولو اړتیا نه وینم. خو دونه باید زیاته کړم چي ښاغلی سلیګ هاریسن د حامد کرزي په مشرۍ حکومت د پښتنو لپاره نهایت زیانمن او خطرناکه ګڼي چي زه سل په سل کي ورسره موافق یم، ځکه د حامد کرزي حکومت د پښتنو لپاره د تریاکو حیثیت لري چي رنګ او زیان یې زموږ ، خو خوند او ګټه یې د نورو ده. مقاله ټوله ژباړل سوې ده.

لوی سکندر، برتانوي راج، او د شوروي سور پوځ باالاخره دې نتیجې ته ورسېدل چي پښتانه - کوم چي د هېواد اکثریت نفوس تشکیلوي- به هرومرو یوه ورځ د بهرني قواوو اواشغالګرانو پر خلاف یوموټي کېږي. لکه څنګه چي په پاکستان کي د (سي اي ې) د مرکز پخواني مشر، هاورډ هارټ، پدې وروستیو کي نیویارک ټایمز اخبار ته ویلي وو، « په پښتني سیمو کي، زموږ تش حضور اصلي پرابلم دی. هر څونه زیات عسکر چي ور واستوو، په هغه اندازه به مخالفت او مقاومت لا غښتلی سي.»

د طالبانو د ښورښ اصلي دلیل د اشغال سره په مخالفت کي نغښتی دی. دا اشغال د پښتنو لپاره ځکه کرغېړن او د منلو وړ نه دی چي د پښتنو په ګومان متحده ایالات هغه کفري طاقت دی چي په مینځي ختیځ کي یې پالیسۍ د هغوی مخالفت او کرکه راپاروي. په تېره بیا چي متحده ایالات له اسرایلو څخه پرته له قید او شرطه څخه دفاع کوي. همدا ملاتړ د مسلمانانو پر خلاف یو عمل ګڼل کېږي. خو د طالبانو زور او قوت نور دلایل هم لري. د ځینو په اړه دېري لیکني سوي دي، لکه د مخدره موادو پیسې، په عامه خلکو کي د فاسدو او فاسقو جنګسالارانو په وړاندي ژوره کرکه او غوسه، او له طالبانو سره د پنجاپي استخباراتو بېدریغه مرستي او حمایت.

یو بل فکټور چي خورا زیات اهمیت لري، مګر نه په عامه مناظرو او بحثونو کي او نه هم د افغانستان په هکله د اوباما د حکومت د پالیسیو په جوړولو کي پاملرنه ورته سوېده، او ښایي تر ټولو زیات اهمیت ولري: هغه د افغانستان په پوځ، پولیسو، او استخباراتو کي د تاجیکو مشرانو عام و تام حاکمیت او تسلط دی. هغوی د امریکا په مټ په کابل کي قدرت ته ورسېدل، او اوس پر خپلو تاریخي رقیبانو- پښتنو- باندي بابایي او حکم چلوي.

پښتون پاچاهانو د افغانستان له تاسیس ۱۷۴۷ څخه بیا تر ۱۹۷۳ پوري کله چي سلطنت ړنګ سو، حکومت کاوه. په لمړیو وختونو کي، د هغوی د حاکمیت ساحه یوازي د پښتنو په اصلي سیمو یعني جنوب ا و شرق کي محدود وه، خو د افغان دولت په مدار مدار په شمال او غرب کي د تاجیکانو، هزاره ګانو، او اوزبکو سیمو لاندي کړې. نن ورځ پښتانه د افغانستان د ۲۸ میلونو نفوسو ۴۲ فیصده تشکیلوي؛ تاجیکان د نفوس ۲۷ فیصده دي. خو تاجیک جنرالان په کابل کي د قدرت ټول اساسي او حساس پوستونه اشغال کړي دي، ځکه د ۲۰۰۱ په ګوډۍ کي کله چي امریکایي قواوو د طالبانو رژیم ړنګ او سټ کړ، هغوی اتفاقا په مناسب وخت او ځاي کي ناست ول.

د شوروي د اشغال پر خلاف د مبارزې او مقاومت په جریان کي، تاجیکانو د پنجشیر په دره کي یوه ملیشا جوړه کړه چي د (سي اي ې) سره یې اورګانیک تړاو لاره. وروسته همدې ملیشا په ګاونډو سیمو کي دنورو جنګیالیو سره ایتلاف وکړ او په نتیجه کي د شمال ایتلاف ترې جوړ سو. همدا ایتلاف د طالبانو پر ضد وجنګېد. طالبانو له ۱۹۹۶ څخه تر ۲۰۰۱ پوري حکومت وکړ. کله چي د متحده ایالاتو فاتح قوه کابل ته ور شوه کېدله، د شمال ایتلاف یې لکه سیورۍ تر شا خپ خپ روان وو. متحده ایالاتو د یوې ډلي تاجیک جنرالانو سره مرسته وکړه چي د حامد کرزي په نوي حکومت کي د امنیتي قواوو کلیدي پوستونه اشغال کړي.

د بش حکومت غوښتل چي په لمړی سر کي موقتي حکومت ته پښتني رنګ او مخ ورکړي، همدا وجه وه چي د بش اداري حامد کرزی د جمهورریس په توګه نصب او مقرره کړ. حامد کرزي هم د (سي اي ې) سره اوږده سابقه لرله، او هم یوازنی پښتون وو چي د تاجیکو جنرالانو لپاره چي جنرال محمدفهیم یې مشري کوله، د منلو وړ کس وو. جنرال فهیم هغه پښتانه او نور مشران ویټو کړه چي د ظاهر خان سره یې تړاو لاره، د مثال په توګه عبدالستار


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

سیرت.  متحده ایالاتو پرې نه ښودل چي ظاهر شاه د دوهم انتقالي حکومت جمهورریس سي.  همدې حکومت له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰۴ پوري حکومت وکړ چي وروسته حامد کرزي انتخاب سو.

اوس د حامد کرزي په حکومت کي تاجیکان  عام و تام اختیار او واک لري.  پدې وروستیو انتخاباتو کي چي ګومان کېږي پراخ تقلب او ټګي برګي پکښې سوې ده، د حامد کرزي لمړی مرستیال جنرال فهیم وو.  د پوځ لوی درستیز، بسم الله خان، تاجیک قومندانان هر ځای مقرره کړي دي، او تقریبا د پوځ  ۷۰ فیصده قومندانان تاجیکان دي چي تل په پوځ کي د پښتنو له داخلېدو او شتون سره مخالفت کوي.   د هېواد په ملي امنیت او  استخباراتو کي تاجیکان پوره واک لري، او په سیستماتیکه توګه هغه پښتانه مشران ازار او تعقیبوي چي د دوي کنټرول ته چلنج ورکوي. که چیري د حامد کرزي حریف، ډاکټر عبدالله چي نیمچه تاجیک دی  او د شمال ایتلاف پخوانی غړی دی، یا په ایتلافي حکومت کي ونډه واخلي او یا د دوهم پړاو انتخابات وګټي، د تاجیکانو پله  به څه نوره هم  درنه سي.

متحده ایالاتو  په افغانستان کي په لوی لاس  خپل ځان په داسي مضیقې کي اچولي دی چي له هغې څخه په آب او عزت  د تښتي  او خلاصون هیڅ لاره نسته.  که چیري متحده ایالات  هڅه وکړي چي  د تاجیکانو واک ختم کړي، او د پښتنو د ملاتړ پالیسي غوره کړي، ضرور به د تاجیکانو له مقاومت سره مخامخ سي، او هم به یوه قومي داخلي جنګ ته لاره اواره کړي.  خو د فعلي شرایطو دوام به د پښتنو مخالفت او بېزاري لا ډېره کړي.

نو  څه باید وکړو؟

لمړی، په راتلونکو دریو کلونو کي دامریکایي ا و ناټو عسکرو د راایستلو لپاره باید یو تقسیم اوقات  جوړ سي، یوازي د لویو ښارونو ساتل او کابل ته د لویو لارو پر حفاظت باندي باید ټینګار وسي.  دا هغه ضروري شرایط دي چي کېدای سي د طالبانو هغه ډلي مشخصي کړي چي غواړي دمحلي پښتني مشرانو سره د سولي خبرو ته کښېني.

دوهم، د طالبانو سره د پنجاپي ملاتړ د جبران لپاره باید اوسنۍ «افغان- پاک» ستراتیژي په یوې پراخي سیمه ایزي ستراتیژۍ باندي بدله سي چي هند، ایران، روسیه، چین، او تاجکیان هم پکښې ونډه ولري.  ځکه دا ټول ملکونه د طالبانو مخالف دي.  دا به له افغانستان څخه  د متحده ایالاتو د تدریجي راوتلو لپاره لاره اواره کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر  و  لولـئ